# شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریك مركزی نشراتی ارگان


### په جګړه کي ثابت قدم اوسئ!

له حضرت عبدالله بن ابي اوفي «رض» څخه روايت دى چي د الله رسول ﷺ فرمايلي دي : « اي خلکو! له دښمن سره د مخامخ کيدلو (نښتي) تمنا مه کوئ ، له خداى «ج» څخه عافيت وغواړئ. خو کله چي ورسره مخامخ شوئ (جګړه ونښته) نو صبر کوئ (ثابت قدم اوسئ) په دې پوه شئ چي جنت د تورو تر سيوري لاندي دى. »

(بخاري ، مسلم)

### په مشکلاتو صبر وکړئ او تقوى کوئ!

لوي خداى (ج) فرمايلي دي : اي هغو کسانو چي ايمان يي راوړي دي (اي مؤمنانو!) صبر کوئ (په طاعت، مصيبت او له معصيته) او ټينګ اوسئ! په صبر ( له دښمن سره په مقابله کښي) او محکم اوسئ ! ( په اسلامي سرحدونوکي) او ويريږئ ! له الله (ج) څخه ددي دپاره چي په مراد ورسيږئ (بريالي شئ!)

(آل عمران - ٢٠٠)


دوهم كال   پنځلسمه ګڼه   پرله پسي (٦٥)   چهار شنبه د١٣٧٦ هـ ش كال د حمل دمياشتي (٢٧)   د١٩٩٧ميلادي كال اپريل (١٦)   د١٤١٧هـ ق كال د ذي الحجة (٨)


**تذكر** ،خطر ايمان است اگـر به اين كلمات مقدس بي حرمتي كنيد .

## د نيكمرغه لوى اختر د رارسيدو په مناسبت د عاليقدر امير المؤمنين پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

محترمو مسلمانانو ورونو او خاصتاً د افغانستان مجاهد ولسه!

السلام عليكم و رحمت الله و بركاته !

لوي خداى«ج» مو په خپلو شرعي مقاصدو كي كامياب او تر لويي لره محترمو مسلمانانو ورونو دا چي له معمول سره سم نيكمرغه لوي اختر را رسيدلي نو په همدي خاطر تاسو زوريدلو هيوادوالو، د ستګر مسافرو مجاهدينو، په بيت الله شريف كښي محترمو حاجيانو او د ټولو مسلمانانو ته د زړه له كومي مباركي وايم او څرنګه چي د لوي اختر ورځي د مسلمانانو د پاره د لويي خوشحالي، عبادت او خير رسولو ورځي دي ، نو لوي خداى «ج» دي وكړي چي دغه مباركي ورځي د اسلامي شريعت په رڼا كي په ډيري خوشحالي سره تيري كړي او په خپلو ټولو خوشحاليو كي خپل هغه ګاونډيان هم ددوى سره شريك كړي چا چي د مقدس شريعت د حاكميت په خاطر د خپلو ګرانو سرپرستان د اللهءج» په لاره كي قربان كړي . او د هغوى درانه قربانيو يي په پټه خوله زغملي او د الله «ج» دربار ته يي صبر كړى .

درنو هيوادوالو دا چه تاسو په ډيرو نازكو شرايطو كي له زياتو مشكلاتو سره سره له خپل اسلامي حكومت سره هر راز همكاري او مرسته كړي نو لوي خداى«ج» مو په ټولو مشكلاتو كي مرسته وكړه، او زه اطمينان دركوم چه طالبان ورونه به ستاسو نيكو خدمتونو ته په درنه سترګه ګوري، او ستا سوله ټولو مشكلاتو څخه بي ګمانونه خبر كړيدي او د اسلامي شريعت د نفاذ او ستاسو د مشكلاتو د حل لپاره د لوي اختر په مباركو ورځوكي په داسي حال كي چه نور خلك پسونه قرباني كوي دوي خپل سرونه د قرباني ميدان ته وړاندي كړيدي او د لوي خداى«ج» د رضا او ستاسو د خوشحالي او اطمينان دپاره يي خپلي ټولي خوشحالي پريښي دي .

نو محترمو ورونو! كه مور او تاسو په اينده كي هر يو له بل سره همدا ډول همكاري ولرو او الهي نظام ته صداقت تسليم شو او د اللهءج» د نعمتونو شكر ادا كړو، نو زما يقين دى، چه زمور او ستاسو مشكلات به تور هم حل شي، او له تيرو غمونو او سختيو وروسته به لويه خوشحالي او سوكالي راشي. حكه چه لوي خداى«ج» له سختي وروسته اسانتياوي راولي . زمور هيله له ټولو مسلمانانو او خاصتاً په كعبة الله كښي له درنو حاجيانو صاحبانو څخه دا ده چه د لوي اختر په مباركو ورځوكي د ټول اسلامي امت د وحدت، د الهي نظام د حاكميت او د ټولو مسلمانانو د مشكلاتو د حل لپاره د لوي خداى«ج» دربار ته په ډيره عاجزي سره د دعا لاسونه پورته كړي، په پاي كي بيوار بيا د نيكمرغه لوي اختر او د مجاهدينو د هغو فتحو مباركي درته وايم چه په دي ورورستيو وختوكي يي په مختلفو محاذونو كي د اسلامي شريعت د دښمنانو ناوړه دسيسي ورشنهي كړي او خپل ستګروته يي محكم ساتلي دي . نور مو په لوي اللهءج» سپارم . والسلام

د اسلام خادم ملا محمد عمر (مجاهد)

محترم مولوي سعيد الدين (سعيد) رئيس عمومي احيا و انكشاف دهات در مصاحبه با هفته نامه «شريعت» :

## صنايع شال بافي، قالين بافي، سطرنجي بافي و گليم بافي در روستا ها آغاز مي يابد

## در ولسوالي پنجوايي ٦٧ پلچك ترميم شده و پروسه ترميم پلچك ها جريان دارد

### به خاطر حفر نمودن ٤٠ حلقه چا هاي عميق در ولسواليهاي ده سبز، بگرامي و پغمان با موسسه سولدريتي پروتوكول عقد گرديده است

سوال : لطفاً به خواننده گان محترم هفته نامه شريعت خود را معرفي نمائيد .

جواب : اسم من مولوي سعد الدين (سعيد) فرزند الحاج مولوي عبداللطيف اصلاً ساكن ولايت قندهار ولسوالي نيش قريه، شاويز مي باشم و فعلاً در تحصيل چمن صوبه بلوچستان پاكستان زنده گي به سر ميبرم تعليمات ابتدايي را در خانه و تحصيلات عالي را در مدرسه فاروقيه مربوط حركت انقلاب اسلامي به پايه اكمال رسانيده ام.

سوال : پروسه توزيع آب آشاميدني در دهات چگونه جريان دارد ؟

جواب در مورد توزيع آب آشاميدني رياست عمومي احيا و

ص(٤)

## مقدار ده كيلو گرام هيروئين كه بخارج از كشور انتقال ميگرديد كشف و بدست آمد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : اسامي حسن جان فرزند حسين جان باشنده ولايت ننگرهار كه مقدار ده كيلو گرام هيروئين را بطور ماهرانه در بين پاكتهاي ساجق جابجا نموده و بخارج از كشور انتقال ميداد توسط موظفين استخبارات و پوليس ميدان هوايي كابل بالفعل دستگير گرديد . قضيه زير تحقيق قرار دارد .

## په المان كي ميشته و افغانانو له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ اعلان كړ

د المان جمهوريت د بن په ښار كي اوسيدونكو افغانانو پدي وروستيو وختو كي د يوى غونډي په جوړولو سره د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او پيوستون څرګند كړ .

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي د دغي غونډي په ترڅ كي د بن په ښار كي اوسيدونكو افغانانو د الماني له دولت او د ملګرو ملتو له سازمان نه وغوښتل چي د افغانستان له اسلامي دولت سره چي د پايتخت كابل ښار په ګډون د هيواد په سلو كي اتيا خاوره په واك كي لري خپلي ديپلوماتيكي اړيكي تامين كړي .

## سنگ تهداب يك محراب مسجد در قريه ملا عمرانخيل ولسوالي چك ولايت ميدان وردك گذاشته شد

طبق گزارش آژانس اطلاعاتي باختر مسجد شريف متذكره به مصرف و سهمگيري مردم آن ولسوالي در ساحه بيشتر از يك جريب زمين بطور پخته و اساسي اعمار گرديده كه داراي وضوخانه و ساير ملحقات ميباشد .

در محفل تهدابگذاري مسجد شريف متذكره كه عده اي از علماي كرام طلباء و موسفيدان آن ولسوالي اشتراك ورزيده بودند محترم قاضي عمر گل ولسوال چك در رابطه به اهداف و برنامه هاي دولت اسلامي افغانستان صحبت نموده و همكاري مردم را در انفاذ شريعت غراي محمدي«ص» تقاضا كرد.

## د افغانستان د اسلامي دولت د سرپرستي شورا مرستيال محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د پاكستان د كراچي ښار د درنو عالمانو له هيئت سره وكتل

د افغانستان د اسلامي دولت د رياست مطبوعاتي دفتر خبر راكړ دي عالمانو چي د خپلو خبرو په ترڅ كي يي د افغانستان له اسلامي دولت سره خپل ملاتړ او همكاري څرګنده كړه. د درنو طالبانو برياليتوبونه يي د افغانستان د ځورېدلو خلكو او د ټولي د ټولو مسلمانانو لپاره ستر بري وباله او د اسلام شريعت د نافذولو په لاره كي يي د ... ځلورم مخ

## مدرسه نور العلوم ولسوالي زروكي ولايت پكتيكا مجدداً فعال گرديد

طبق گزارش آژانس اطلاعاتي باختر در محفليكه به همين مناسبت به اشتراك علماي كرام، طلباي ، روساي اقوام و مسؤلين آن ولسوالي برگزار گرديده بود ولسوال زروكي در ابطه به ضرورت و اهميت ايجاد مدارس ديني صحبت نمود و ايجاد همچو مدارس ديني را با ارزش خواند .

مدرسه متذكره كه در اثر جنگ غير فعال گرديده بود به اهتمام محترم مولوي اكبر گل مجدداً فعال و حدود سي طالب العلم در آن شامل گرديدند .

طبق يك خبر ديگر بخش دارالحفاظ در مدرسه شهيد ملابورجان واقع حصه اول خير خانه ايجاد گرديد .

ص(٤)

## د ننگرهار ولايت راديو بيا فعاله شوه

د ننگرهار ولايت راديو چي پخوا غير فعاله شوي وه پدي وروستيو وختو كي بيا فعاله شوه او په خپلو خپرونو يي پيل وكړ .

د ننگرهار له ولايت نه د شريعت اوونيزي خبريال خبر راكړ دغه راديو چي د مازيګر له پنځو بجو نه د شپي تر اوو بجو پوري خپرونه كوي د اطلاعاتو او كلتور وزارت هاند او د هڅو او د ننگرهار ولايت د اطلاعاتو او كلتور دریاست د مسوولينو د زيار له امله بيا فعاله او د استفادي وړ وګرځيده .

## كلينيك صحي ده بوري طي مراسمي مجدداً فعال شد

طبق گزارش آژانس اطلاعاتي باختر در مراسمي كه به همين مناسبت در آن كلينيك داير گرديده بود ابتدا محترم نقيب احمد حافظ معاون اول جمعيت افغاني سره مياشت در رابطه به نقش و ارزش همچو كلينيك ها صحبت نمود، مسوولين را متوجه وظايف بعدي شان در امر خدمت گذاري به هموطنان نيازمند ما ساخت . كلينيك ده بوري كه به اثر جنگ هاي متداوم چند سال اخير كاملاً تخريب و از فعاليت باز مانده بود به اثر سعي و تلاش همه جانبه مسوولين جمعيت افغاني سره مياشت مجدداً فعال گرديده در كلينيك مذكور داراي بخش هاي داخله پانسمان ، جراحي خفيفه ، واكسيناسيون تعليمات صحي ، ملاريا و لشمانيا مي باشد ظرفيت تداوي بيش از شصت تن مريض را روزانه دارد .

## دغزني ولايت د ناوور په ولسوالي كي د فيض المدارس مدرسي ليليه د يوى غونډي په ترڅ كي پرانستل شوه

د غزني له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبريال د خبر له مخي پدي غونډه كي له هغه وروسته چي د كلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول محترم فيض الحق سروري او محترم ملا انصار اخند د دا ډول مدرسو د اهميت او ارزښت په باره كي خبري وكړي او طالب العلمان يي د ديني او اخلاقي فضايلو زده كړي ته وبلل ددغي مدرسي ليليه چي څه د پاسه پنځوس تنه طالب العلمان پكي شامل دي د لوست چاري يي شپږ تنه تجربه لرونكي استادان په غاړه لري .

## سيزده چين تانك غيرفعال ، ترميم و فعال گرديد

١٣ چين تانك كه در حكومت نيرو هاي ملحدين و موتلفين غير فعال بود ترميم و دو باره فعال گرديدند . آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد تانك هاي متذكره به اثر سعي و تلاش انجنيران و پرسونل مسلكي قطعه تانك فرقه ٨ پياده دو باره فعال و آماده اجراي هر نوع فعاليت محاربوي شد .

### د رحمن مينې د كانالونو د كيندوني او پاكوني پروتوكول د كابل ښاروالي او د پاملرني موسسي تر منځ لاس ليك شو

د باختر اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي ددغه پروتوكول له مخي به د هغو ناروغيو د خپريدو مخه ونيول شي چي له ولاړو اوبو نه پيدا كيږي او د رحمن مينې د سيمي د اوسيدونكو ستونزي او مشكلات به كم شي .

## د عامه كتابتونونو په رياست كي د برېښنا بهير تامين شو

د شريعت اوونيز خبريال خبر راكړ د عامه كتابتونونو په رياست كي د برېښنا بهير چي د تنظيمي جګړو له امله بند شوي و او سامان الات او تجهيزات يي لوټ كړي شوي و د اطلاعاتو او كلتور د محترم وزارت او د كابل د برېښنا رياست د انجنيرانو د هلو ځلو له امله بيا عادي حالت ته راوګرځيد د برېښنا دا جريان به ددي فرهنګي موسسي دستونزو زيانه برخه حل كړي .

بايد وويل شي چي په پام كي دي چي په نږدي راتلونكي كي د ملي ارشيف د برېښنا بهير هم د اطلاعاتو او كلتور وزارت په پاملرنه او اهتمام او د كابل د برېښنا رياست د مخلصانه هلو ځلو په نتيجه كي تأمين شي .

## به طول سي و پنج كيلو متر سرك لوى ولسوالي خير كوت ولايت پكتيكا جغل اندازي و ترميم گرديد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد به ترميم اين سرك كه به همكاري مادي اهالي آن ولسوالي ترميم و جغل اندازي گرديده است مشكلات ترانسپورتي اهالي مناطق دشت و فقيران مرفوع شده است .

## د كلاچي د اوبو رسولو شبكه احيا او فعاله شوه

د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبر له مخي په هغي غونډه كي چي له همدي امله جوړه شوي وه د كلي د بيا جوړوني او پراختيا د عمومي رياست سرپرست محترم ملا سعد الدين سعيد په داسي حال كي چي د پلان وزارت سرپرست محترم قاري دين محمد د يونيسف د اداري امر شاغلي رابرت او ددغي سيمي ګڼ شمير اوسيدونكي حاضر وو ددغي شبكي د بيا ځلورم مخ

### سرمقاله

دلوي خداى (ج) په نامه

## د قرباني اختر

هر څوك اختر لري د چا د اختر صبغه مذهبي د چا ملي او د چا هم د كال د كوم فصل رنګ د اختر رنګ وي خو د مسلمانانو اخترونه ديني ورځي دي، د قرباني ورځي دي د مبارزي ورځي دي .

دا دي ني سبا چي لوي اختر را روان دي د حضرت ابراهيم«ع» د زوي اسمعيل «ع» د قرباني د ورځي ياد دي . د هغوي عليهما السلام په پيروي ټول مسلمانان همدا ديني ورځ په وينو نمانځي ، څاروي حلالوي د لوي خداى دربار ته همدا رنګينه تحفه اهدا كوي كه اړتيا وي ، كه د خداى «ج» دين ور څخه وغواړي نو بيا مسلمانان همدا ورځ په خپلو وينو نمانځي او د اسمعيل «ع» په څير د خداى د دين په لار كي همداسي مرګ ته ټيټ او غاړه ږدي .

د مسلمانانو اختر د مبارزي اختر دي د كفر فسق او منكراتو مجسمه په همدي ورځ په تيرو ويشتله كيږي څو د باطل په مقابل كي خپل هود نوي كړي . د عرفات غونډي ته په يوه رنګ جامو

(٢مخ)

## جشنواره ورزشي به مناسبت حلول عيد مبارك قربان آغاز گرديد

خبرنگار ورزشي هفته نامه «شريعت» گزارش داد: در اين جشنواره كه به ابتكار كميته ملي المپيك دولت اسلامي افغانستان بعد از ظهر يكشنبه ٢٤ حمل در ستديوم ورزشي كابل برگزار گرديد، برخي از اراكين بلند رتبه دولتي، هيئت رهبري كميته ملي المپيك، ژورنالستان، ورزشكاران و جمعي كثيري از علاقمندان ورزش اشتراك نموده

ص(٤)

## د مباركي پيغام

محترم عاليقدر اميرالمؤمنين د سرپرستي شوري محترم رئيس درنو غړيو، قدرمنو او مؤمنو هيوادوالو !

د شريعت اوونيزي د مسؤلينو، كاركوونكو او ليكوال هيئت لخوا د نيكمرغه لوي اختر په مناسبت د مباركي مراتب او نيكي هيلي ومنئ .

لاس په دعا يو چي خداى دي د قرباني د اختر دا ورځي او روان پسرلي زموږ د كونډو، يتيمانو، دردېدلو او ځوريدلو هيوادوالو د سكون او ارامئ سبب او له هيواد نه د ظلم او فساد د عاملينو د وركيدو له خوښي ډكي ورځي وګرځوي .

## سرك ولسوالي ننگراج الي دوابه مربوط ولايت نورستان ترميم و مورد استفاده قرار گرفت

طبق گزارش آژانس اطلاعاتي باختر سرك متذكره به طول صد كيلو متر به همكاري و سهمگيري مردم آن ولسوالي ترميم و مورد استفاده قرار گرفت . در مراسم كه بهمين مناسبت داير گرديده بود محترم مولوي محمد رستم حنيفي ص(٤)

## يك گروپ استادان و محصلين معهد الشرعي العالي للمعلمين از شهر كابل ديدن نمودند

خبر نگار هفته نامه «شريعت» گزارش داد: هفته، پيش يك گروپ ٤٠ نفري استادان و محصلين معهد الشرعي العالي للمعلمين مقيم پشاور غرض رحله (سير علمي) وارد كابل گرديده، در جريان اقامت شان از موسسات تعليمي و تحصيلي، نواحي مختلف و ويرانه هاي شهر كابل ديدن نمودند .

محترم محمد حسن تبعه كشور عراق و يكتن از استادان اين معهدهدر پاسخ يك سوال خبرنگار ما اظهار داشت :

هدف خاص ما از اين سفر ، آگاهي از اوضاع عمومي افغانستان ميباشد .

ص(٤)

## مراسم ويساك اهل هنود و سكها اخيرا در ولايت ننگرهار بجا آورده شد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد در اين مراسم كه در درمسال اهل هنود شهر جلال آباد داير گرديده بود تعداد از اهل ص(٤)

# عيد سعيد قربان را حضور رهبر عاليقدر انقلاب اسلامی امير المؤمنين ملا محمد عمر ((مجاهد))، شوراى سرپرست دولت ، امت اسلامی و كافهء ملت مجاهد افغان تبريك و تهنيت عرض مي نمائيم

# شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۲۲۰۰) افغانی
په پاکستان کی (۲) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه /سرك۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ٦۲۸۵۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پېښور کي : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ۸٤٤۳۲۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷


## د سرمقالي پاتي برخه

کي ځي تر څو د سپین او تور عرب او عجم تر منځ امتیاز په عمل کي ورك کړي او وښیي چي له تقوي پرته په دین کي نور د امتیاز پاتېکي نشته . د رنګ ژبي سمت ، قوم او جامي توپیر ظاهري او عارضي دي

د مسلمانانو اختر د اتحاد مظهر دي او په یوه خوله ، یو رنګ جامه یو ځاي او په یوه ورځ د خداي د فرمان منل اعلانوي او په «لبیك الهم لبیك ورځي پیل او پاي ته رسوي .

د مسلمانانو اختر سیاسي اختر دي، په یوه ځاي کي د کنفرانس په څېر د کنګري په بڼه او د اجتماع په شکل را غونډیږي ، تا خوالي وابي دردونه ښکاره کوي او لاري یي سنجوي؛ تر څو د یوه او بل په مشوره د مسلمانانو غمونه او دردونه کم کړي .

د افغانستان مسلمانان د روسانو د تیري او د کمونستانو د رژیم له پیل څخه بیا تر ننه په هنداسي نذرانه سر لوړي دي .

د کمونستانو په مقابله کي د افغانستان مسلمانانو په خپل سر او خپله وینه سپما ونکړه په ډېر ویاړ د هنداسي اختر په ورځو او شپوکي د توپ او ټانګ مرمي ته ودریدل، په محبسونو کي د شهادت تر ویاړه ورسیدل، د هجرتونو تا خوالي یي وزغملي په ډله ایزه توګه شهیدان شول او دا ټول یي د ابراهیم او اسمعیل «ع» د نذراني په ویاړ وکړل تر څو وي چي په همدي قرباني د خداي «ج» دین ساتلي او د خداي«ج» کلمه لوړه شي په خپلو همدو قربانیو یي د خداي«ج» دین او د ګران هیواد خاوره د خداي «ج» او انسانیت له دښمنانو څخه وژغورله، د همدي قربانیو په زغملویي د نړي نیم مظلوم انسانیت ته دا جرئت ورکړ تر څو د کمونیزم د جهنمي ژوند څخه ځان خلاص او په ازاده نړۍ کي ژوند وکړي .

اوس بیا چي په هیواد کي ناخوالي زیاتي شوي، امنیت له منځه تللي او د جهاد مقدس اهداف پاته شوي او ځاي یي فساد نیولي وو، یو ځل بیا د افغانستان د متدینو او مجاهدوخلکو زامن په تش لاس خو د هنداسي نذراني او قرباني په احساس را پورته او د طالبانو په اسلامي تحریك کي د یو مرصوص صف په څیر ودریدل لاسونه یي په ورغوي کي را واخستل وینې یي بهیدلي فرض کړي او د فساد په مقابله کي یي جهاد اعلان کړ .

قرباني یي میوه ورکړه الحمد لله نن د هیواد په زیاته برخه کي نه دا چي امنیت راغلي بلکي د هنداسي نورو قربانیانو ارمانونه پوره او د جهاد ثمره زمونږ کېدلو هیوادوالو وځکله . و الحمد لله علي هذا

## د شریعت تبصره

# ګوداګی باغیان او وروستي ناکام بغاوت

دا یو څرګند حقیقت دي چي الله «ج» انسان د خپل عبادت لپاره پیدا کړېدي او د انسان د خلقت د هدف تقاضا دا ده چي دي باید د خپل ژوند ټول اړخونه که هغه اقتصادي دي، که سیاسي دي، که ټولنیز دي او که اخلاقي دي د لوي الله په اطاعت کي تیر کړي نو بنده ته دا نه ښایي چي د خپل رب، خالق او مالك له اوامرو او وینا و څخه سر وغړوي او د بغاوت لار خپله کړي انسان باید د خپل نفس او هوسونو تابع و نه ګرځي او دتخلیق له هغه فطري چوکاټ او محدودیت نه باید پښې و نه باسي چي لوي ،حکیم او علیم ذات د انسانانو د ژوند د هوساینې لپاره وضع کړېدي اللهوج» چي په خپل مخلوق تر هر چا ډېر مهربان دي په دنیا او اخرت کي د انسان لپاره نیکمرغه ژوند خوښوي نو د نیکمرغه ژوند د موندلو لپاره یي ورته لارښوونې کړي دي او دا یي ورته بیل کړي دي چي دا د نیکمرغه ، هوسا او سوکاله ژوندلاره او دا د بدمرغه له ستونزو او کړاوو ډك ژوند لار ده د انسانانو فهم او د ادراك ځواك ډېر کمزوري دي او د مستلې حقیقت ته ژر نه شي رسیدلي همدا راز د خپل خیر او شر تمیز په پوره ډول نه شي کولي نو الله «ج» په ځمکه کي د خپل خلافت د نظام په جوړولو امر وکړ او خپل خلیفه او د مسلمانانو امیر ته یي دا دنده ورکړه چي که څوك خپل خیر او شر نه پیژني نو تاسي یي ورو ښیئ او که بیا هم په خپل غلط دریځ او نا روا عمل اصرار کوي نو په هره طریقه چي وي د ناروا عمل نه یي لاس ونیسي ددي ساده مثال به دا وښیو

لکه په یوې کورني کي چي یو کوچني خپل خیر او شر نه پیژني او په غلطه لار روان وي (که څه هم ده ته همدا لار ښې ښکاري ) نو د ده پلار یا بل سرپرست په هیڅ صورت ده ته اجازه نه ورکوي چي ددي دي دا غلطه لار چي ټول شر دي تعقیب کړي حتي د ضرورت په وخت کي د تأدیب لپاره جزا هم وروکوي نو د اسلامي خلیفه او اسلامي امیر حیثیت هم د کورني؛ د مشر په څیر دي چي هر وخت د خپلي کورني د غړو نیکمرغي غواړي هغوي ته مخلص واوسي . او په هیڅ ډول اجازه ورنکړي چي کوم غړي یي د ګمراهي لار خپله کړي - نو په دي اساس د یو مسلمان امیر په وړاندي د سمع او طاعة (اوریدني او منني) د اصل احترام په هر مسلمان فرض او لازم دي او هر عمل چي په اسلامي نظام کي د ګډوډي ، انارشیزم، ملوك الطوایفي سبب ګرځي، د انسانانو فردي او اجتماعي ژوند ته صدمه رسوي، د اسلام له نظره مردود او عامل یي محکوم (مجرم او باغي) دي .

زموږ ګران هیواد چي د اتلس کلنو تحمیلي جګړو له کبله له ډېرو ستونزو او کړاوو سره مخ شو او ټول ، علمي ، اقتصادي ، ملي، ټولنیز او سیاسي بنسټونه یي ویجاړ او له منځه لاړل دردوونکي او غمونکي برخه یي دا ده چي مرکزي نظام خپل ځاي ملوك الطوائفي، قومانداني سالاري او ځان غوښتنو ته پرېښود چي په دي توګه زموږ هیواد او ملت خپلي ټولي مادي او معنوي شتمني له لاسه ورکړي، ظلم، استبداد خپل اوج ته ورسید د هیچا مال، سر او ناموس خوندي پاتي نه شو هر کس او نا کس

کولي شول چي په ډېره اسانه حتي د یو قدرمن او مخور سړي په سر ، مال او ناموس تیري وکړي چي دي وضعي برسیره پردي چي لکونه ځاني تلفات یي درلودل زموږ د ژوند ټول اساسات یي هم ونړول د هیواد سرحدي او جغرافیوي مصؤنیت مو خپل حیثیت له لاسه ورکړ پردیو کولي شول چي پرته له کوم خند او بندیز نه او پرته له دي چي څوك تري د پاسپورټ جواز او ... پوښتنه وکړي له هري سمي او غره نه دلته راشي او خپل شوم مقاصد تر سره کړي ، د خپلو ناولو اهدافو او هوسو لپاره ګروډاګیان وګماري چي په دي توګه افغانستان خپله مځکني بشپړتیا ، ملي او سیاسي حاکمیت له لاسه ورکړ او د بي خاونده دیګ په څیر هر چا په کي د خپل ذوق سره سم چمچي وهلي. په دي وخت کي د افغان مظلوم او دردیدلي ولس لپاره د خداي له اسري پرته د اسري او امید بل ځوك نه تر سترګو کیده ملت د حال او قال په ژبه په یو اواز د «النجاة النجاة» چیغي وهلي لکه څرنګه چي خداي د محسنینو اجر نه ضایع کوي ددي ملت او ازېو تیاز ته یي هم لبیك ووایه او د روحاني تولني شاز لمیانو (طالبانو) ته یي همت ورکړ چي د خپل ملت د خلاصون لپاره کتاب په طاقچه(تاخچه) او قلم په جیب کي کیږدي او توره او ټوپك راواخلي او هماغه وو چي د لوي خداي په نصرت د هیواد له اتیا په سلو کي ډېري برخي یي د مفسدینو او ظالمانو له ناپاك وجود نه پاکي کړي الهي شریعت یي په کي نافذ کړ ، امن او امان حاکم شو او په معاصر تاریخ کي د لمړي ځل لپاره د واحد واقعي شرعي اسلامي مرکزي حکومت بنسټ کیښودل شو .

په افغانستان کي د اسلامي نظام له استحکام سره په فردي او اجتماعي ډګرو

کي د طاغوتي نظام مظاهر په کلي ډول له منځه ویوړل شول . دا تاریخي او خارق العاده پېښه په نړیوال کفر باندي لوي او سخت ګوزار وو تو نړیوال ښکیلاك او سیمه ایز بدخواهان چي په افغانستان کي داسي سوچه اسلامي حواکمن او د ملت له ملاتړ نه برخمن نظام نه شي زغملي او نه یي غوښتل چي افغانان د حریت او ملي حاکمیت له نعمت نه برخمن وي د اسلامي اردو د ځواکونو د چټکو پر مختګونو د مخنیوي لپاره یي خپلي هلي ځلي لا ګړندي کړي او په دي تکل کي شول چي دي شرعي حوان اسلامي نظام ته ختونه را پیدا کړي تر څو یي غیر اسلامي او ملي ضد تنازل ته اړ باسي او په دي توګه د ګرد اسلامي امت بیانړي راتوکیدلي هیلي له خاورو سره برابري کړي .

ددي شوم هدف د تحقق لپاره یي په ډېره بېړه د ګوداګیانو روزني ته ملا وتړله

او په ډېر سخاوتمندانه انداز کي یي د هغوي سیاسي، اقتصادي او نظامي پالنه وکړه او کوي یي خو د افغانستان غیرتمن ولس چي له یو سوري نه حو واري سارچیچلي دي ویښ وو او بیا چمتو نه وو چي له هماغي سوړي نه یي ماران وچیچي نو په ډېري هوښیاري او اسلامي فراست سره په یو غږ د طالبانو د اسلامي تحریك په صفونو کي ودریدل او په خپل سر او مال یي د هغوي ننګه او ملاتړ وکړ او کوي یي . چي ددي ادعا د ثبوت بیلګه په تیرو وختونو کي د باغیانو په اصطلاح ملي قیامونه وو چي ، پکتیکا، کاپیسا، پروان، وردګو او د ختیځ زون په ځنو برخو کي په نطفه کي خنثي شول او په دي شپږو او ورځو کي یي د کونړ او ننګرهار په سرحدي سیمو کي ښودلي شو .

پوښتنه دا ده چي دا خلورم مخ


رساله، کوچك اما پر محتوی و بیش ارزش (احکام موسیقي و سرود از دیدگاه قرآن مجید و سنت رسول اکرم ﷺ و اقوال علما) را ، اثر دانشمند محترم احمد بن عبدالعزیز حمدان که توسط فاضل محترم عبدالواحد نهضت فراهي به زبان دري ترجمه گردیده است خیلي مفید و مؤثر یافتیم للا لازم دیده شد که همه مطالب آن را بدون کم و کاست غرض استفاده خوانندگان عزیز خود بدست نشر بسپاریم امید است که مفید واقع گردد .
(اداره)


# احکام موسیقی و سرود از دیدگاه قرآن مجید و سنت رسول اکرم ﷺ و اقوال علماء

قسمت دوم

### باب اول
### سرود و انواع آن
### فصل اول

**انواع سرود هاي جائز و مباح :**

**تعریف سرود :**

سرود عبارت از تطریب(شادماني کردن، به هیجان آمدن ، نشاط سردادن) و ترنم(آواز خواندن، زمزمه کردن به آواز خوش - فرهنگ عمید-مترجم)به شعر و نثر و غیره است که با بلند کردن آواز و پي در پي آوردن آن میباشد، گاهي این طرب و ترنم با موسیقي همراه میباشد و یا همراه نه بوده به تنهایي سروده میشود .

**تعریف موسیقي :**

این لفظ اطلاق بر آلات و ابزار طرب میگردد مانند عود (چوب بریده شده از درخت و نام یکي از الات موسیق بربط یا عود هندي . هندي درختي است که در هند و بیرماني میروید، چوب آن قهوه رنگ و خوشبو است و آنرا در آتش مي اندازند که بوي خوش بدهد که مي توان آنرا د موسیقي غجلك و یا دو تار نامید) کمان (چوب خمیده که دو طرف آنرا بازه محکم بکشند و ببندند. آلتي که در قدیم براي تیر اندازي بکار مي بردند، هر چیز خمیده را نیز گویند و یکي از ابزار موسیقي است .) طبل( دهل، یکي از آلات موسیقي شبیه به دایره و داراي دیواره، بلند چوبي ، یا فلزي که در یك طرف یا هر دو طرف آن پوست نازکي کشیده شده و با دو تکه چوب نواخته مي شود ، اطبال و طبول جمع در فارسي تبیر و تبیره و تیراك و کوس و کوست هم گفته شده ) مزمار(ناي و جمع مزمور به معناي سرود و ترانه و طرب شاد شدن، اهتزاز و جنبش از شادي و نشاط، شادي، شادماني - فرهنگ عمید - مترجم) و غیره. و موسیقي یك لفظ یوناني قدیم است .

از این گفته ها مي توان نتیجه گرفت که موسیقي -ساز- چیزي و سرود چیز دیگر است و با هم متفاوت و تلازم ندارند و موسیقي مستلزم سرود نیست ...

و لازم نمي افتد که هر جاي سازي باشد ، آوازي نیز موجود گردد زیرا تنها طرب و ترنم [تعریف این دو پیشتر گذشت] یا بلند کردن آواز و پي در پي آوردن آن، سرود و آواز خواني است خواه با موسیقي همراه گردد: و یا خیر .

برادر مسلمانم ! وقتي باین واقعیت پي بردي، پس نیك بدان که مقصود و هدف ما از انواع سرود جائز و مباح، مجرد بلند کردن آواز و توالي آن بطرب و ترنم است بدون اینکه به موسیقي و ساز همراه گردد. سرود مباح چند نوع بوده و در پرتو تحقق شرایطي جائز و روا پنداشته میشود . انواع سرود مباح قرار ذیل اند :

۱ - حداء الابل : ( حداء سرود و آواز ساربانان هنگام راندن شتران، سرود و آوازي که شتر بانان عرب هنگام راندن شتر میخوانند و شتر با شنیدن آن مست میشود و تند میرود و در فارسي حدا و حدي نیز میگویند)- فرهنگ عمید - مترجم ) نوعي از سرودن است که عرب از آن استفاده میکنند. تا راه را بر خود کوتاه فکر نمایند و خود را با نشاط نگهدارند و شتران را با خواندن آن به شور و وجد بیاورند، تا به سیر خود سرعت بخشند . ( لسان العرب ١٤-١٦ قول عامر بن اکوع رضي الله عنه است که در غزوه خیبر در وقت راندن شتران مي سرود . )

اللهم لو لا أنت ما اهتدینا
ولا تصدقنا و لا صلینا
فاغفرفدا ، لك ما اقتفینا
و ثبت الأقدام ان لا قینا

(روایت مسلم ۱٦٦،۱۲ و بخاري ٤٦۳،۷،٥۳،۱ ).

ترجمه : بار الها اگر هدایت تو نمي بود ما گمراه بودیم نه زکوة میدادیم و نه نماز میخواندیم، ما را بیامرز آنچه داریم در راهت تصدق باد و پاي ما را در میدان کار زار استوار بگردان .

۲ - الرجز :(نام یکي از بحور بروزن مستفعلن، مستفعلن، مستفعلن و شعریکه به هنگام جنگ در مقام مفاخرت و خود ستایي بخوانند، رجز خواني عمل رجز، رجز خوان، خواندن اشعار در وقت نبرد جهت مفاخرت، خود ستایي. - فرهنگ عمید، مترجم- ) سرودن شعر در جنگ بخاطر تشویق جنگجویان و رزمندگان براي نفوذ در صفوف دشمن، مثال آن این قول ابن رواحة است که در غزوه،، موته این طور رجز خوانیکرد :

اقسمت بالله لتنزلنه
طائعة او لتکرهنه
ان اجلب الناس و شدوا الرنة
مالي أراك تکرهین الجنة

(سیرة ابن هشام ج۲، ۳۷۹ این غزوه در سال هشتم هجرت بوقوع پیوست و اسلام سه مرد دلاور خود را از دست داد، زید بن حارثه، جعفر بن ابي طالب و ابن رواحه در نتیجه خالد بن ولید قوماندانه را بدست گرفت و لشکر اسلام را از تباهي نجات داد. لشکر هر قل از صد الي دو صد هزار تخمین زده میشد و مسلمانان سه هزار نفر بودند، بن رواحه جنگ آور شجاع و شاعر فصیح بود گفت : اي مردم بخدا چیزي که از آن تنفر دارید هماناست که در جستجوي آن بر آمده اید، این شهادت است که نصیب شما میشود ، جمعیت هیجان شاعر دلیر به تمام سپاه سرایت کرد و راه جنگ را در پیش گرفتند .

زندگاني حضرت محمد«ص» تألیف محمد حسین هیکل ترجمه ابوالقاسم پاینده - مترجم -)

ترجمه : من بنام خدا سوگند خورده ام که در صف دشمن رخنه میکنیم چه به طبع خاطر نفس و چه به زور، جز این نیست که یا غالب و یا شهید گشته به جنت مي روم شمن بانگ زده و کمر تباهي براي ما بسته اند؛ چرا نفس ابا، دارد تا شهید شود و به جنت برود ؟

۳ - سروديکه مردم بخاطر کاهش از خستګي متاعب شغل و کار زمزمه میکنند و جسم و جان خود را به آن راحت مي بخشند مانند این قول ص(۳)

# زمونږ په ملي اقتصاد کي د قیمتي او زینتي ډبرو ارزښتناک رول

ډاکتر موسی زي

قیمتي او زینتي ډبرو له ډېري پخوا زمانې څخه را په دي خوا د انسانانو توجه خان ته رااړولي ده . په پخوانیو زمانو کي خلکو عقیده لرله چي قیمتي ډبري د انسان لپاره د خوشبختي سبب ګرځي او د هر چا سره چي تومورۍ ډبري موجودي وي، په هغه باندي تاروغۍ څه اثر نشي کولاي . همدا راز پخواني خلك معتقد وو چي امیست (د کوارس بایکري روښانه بادنجاني رنګه ډبره) د خپل څښتن د خوشبختي سبب کیږي، بیریل د سترګو درد دواکوي، زمرد د اسیرانو په خلاصولو او بیري ته د طوفان څخه د نجات په ورکولو کي مرسته کوي، او بین (سور یاقوت) د وینې له توئیدو څخه مخنیوي کوي، سپفیر(شین یاقوت) دلېم د چیچلو درد آسانه کوي، او پال (قیمتي عقیق) د بخت ډېره ده، فیروزه خوشحالي راوړونکي ده. په همدي اساس په ګلهوکي د غمیو په څیر او په جنګي وسلو کي دبریو په هیله دنومورو ډبرو ځاي په ځاي کول را منځ ته شوي دي .

دا ډبري چي ښکلي رنګ ، روښانه، خالصي او د کلکوالي لوړه درجه لري له یوي خوانه د غمیو په توګه په ګوتو، والیو، لاکتونو او تورو ګانوکي تري کار اخیستل کیږي او همدا شان د کورونو په شایسته کولو د تمایشي او زینتي لوښو په جوړولو او داسي نورو برخوکي زیاتي استعمالیږي ، له بلي خوا په اوسني پر مختللي تخنیك کي د خپلو پورتنیو خصوصیاتو په لرلو سره د ډېر اهمیت وړدي، ځکه چي د ډېرو عصري ماشینونو د جوړښت په حساسو برخوکي له هغوي څخه ګټه پورته کیږي .

د قیمتي او زینتي ډبرو لوړ ارزښت د هغوي د کلکوالي ، خالص والي، ښکلي رنګ، د انکسار د لوړ ضریب، او ساشیا، او په نړۍ کي د هغوي د ډېر کم پیداښت پوري اړه لري. دا ډبري د نړۍ پرمخ په څو محدودو هیوادونو کي پیدا کیږي چي له ټولو څخه مهم ئې سیلون (سیریلانکا)، برما، برازیل، هندوستان ، د جنوبي افریقا ځیني هیوادونه، افغانستان او داسي څو نور ملکونه دي چي په هغوي کي براځي او براځي یو یا دوه دوله تومورۍ تیږي (ډبري) پیدا کیداشي .

زموږ ګران هیواد افغانستان چي د جیولوجیکي (د ځمکي پیژندني علم) مطالعاتو له پلوه تر اوسه پوري ښه نه دي مطالعه شوي د قیمتي او زینتي ډبرو دلرلو له پلوه ډېر بختي هیواد ګڼل کیږي. زموږ د بدخشان د لاجورد وصفت لا په ۱۲۷۱ عیسوي کال کي مارکوپولو چي مشهور سیاح وو کړي دي، او د مصر د فرعونیانو د قبرونو په ښکلي کولو کي له دي لاجوردو څخه کار اخیستل شوي دي . په اوسني وخت کي زموږ په هیوادګران افغانستان کي دا لاندي قیمتي او زینتي ډبري پیدا کیږي : ۱ - روبین(سور یاقوت) په جګدلك کي .

۲ - زمرد په پنجشیر کي، د کنړ د ولایت د بادیل په دره کي، او زموږ په عقیده د کاپیسا د ولایت د سنجن په لوړو برخو د بولفین په دره د تخار او جنوبي بدخشان په منطقو کي هم ددي ارزښتناك منرال دشته والي زیات امکانات موجود دي . ۳ - شپېل (العل) په بدخشان کي .

٤ - دبیریل او ګرانانو شفاف او رنګه ډولونه، د تورمالین(بیروج) شنه، ګلابي، بادنجاني او دڅو رنګونو لرونکي (پولي خروم) کر تسلونه چي دافغانستان د یکماتیتي کمربند په حدودوکي پیدا کیږي، دا کمربند د بدخشان له پامیر څخه شروع شوي، نورستان، لغمان، ننګرهار، پنجشیر، کاپیسا نه تیر شوي او د کابل له لیاري د میدان، د هلمند د سین لوري برخي او د اروزګان ولایت ځیني برخي هم د هغه په حدودوکي راځي د دي کمربند اوږدوالي زیات او کم اله سوه کیلو متره او پلنوالي یي د پنځوسو څخه تر دوه سوو پنځوسو کیلو مترو پوري رسیږي ، چي غني او ډېري مشهوري سیمي یي په نورستان، بدخشان، کنړ، لغمان، پنجشیر او د هلمند دسین په لوړو برخوکي پرتي دي . ٥ - د کوارس یا بکري رنګه او روښانه دولونه ، د افغانستان د یکماتیتي کمربند په حدودوکي او همدا شان د هندوکش د غرونو په شمالي او جنوبي برخوکي . ٦- لاجورد، په بدخشان کي . ۷ - عقیق، د افغانستان په شمال غربي، غربي او جنوب غربي ولایتونو کي۸ - زینتي او ډولي ګرانیتونه(د خارا ډبري)، د هیواد په اکثرو برخوکي، خصوصاً په بامیانو، هندوکش، نورستان، ارغنداب، مقر، هرات او داسي نورو ځایونو کي .

۹ - زینتي او ډولي سپین تور او څرمرمر، په نورستان، کابل او داسي نورو ځایونو کي . اوس په افغانستان کي د زینتي ګرانیتونو څخه پرته، نوري ټولي قیمتي او زینتي ډبري د قوماندانانو او دمنطقي د متنفذو خلکو لخوا په غیر قني شکل سره راویستل کیږي او نړي والو بازارونو ته د بهرنیو دلالانو په واسطه لیږدول کیږي ، دوي دا ډبري په ډېره تیټه بیعه زموږ د هیواد والو څخه رانیسي او په ډېره لوړه بیعه یي د نړي د قیمتي او زینتي ډبرو په بازارونو کي پلوري ، چي په دي توګه بهرني دلالان زموږ د هیوادوالو په پرتله خوچنده زیاته ګټه د نومورو ډبرو څخه په لاس راوړي .

د قیمتي او زینتي ډبرو ارزښت په نړیوال بازار کي ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده، او د افغانستان روبین، زمرد ، تورمالین او تخته یي تیږي (کونسیت) چي اوس، اوس یي نړیوال اهمیت پیدا کړي دي او د خپل لوړ کیفیت له لحاظ د ډېرو لوړ ارزښت لرونکي دي په نړي کي ډېر شایقین لري. زموږ سره اوس د وروستي تقریباً اتلس کلني جګړي له امله چي د هیواد پوهان او محققین یي د نړیوالو علمي خپرنو او نوي پرمختګونو څخه بي برخي ساتلي دي، ددي ډبرو د اوسني ارزښت په هکله نوي مدارك په لاس کي نشته خو د ۱۹۷٤ عیسوي کال یعني د (۲۳) کاله پخوانیو مدرکونو په اساس کولاي شو د خپل هیواد د قیمتي او زینتي ډبرو ارزښت د لومړي لمبر ګراف په واسطه وټاکو. له دي ګراف څخه ښکاري چي یو قیراط حکاکي شوي لوړ کیفیته زمرد د اتیا نه تر سل ډالرو او




د امریکا په متحده ایالاتو کي د حکاکي شوو لوړ کیفیت لرونکو ډبرو ارزښت د دوي د وزن په ارتباط د ۱۹۷٤ کال د Industrial Minerals and Kocks مجلي د مدارکو په اساس .

یو قیراط حکاکي شوي سور یاقوت د دوه سوه پنځوسونه تر دري سوه ډالرو پوري ارزښت لري. (یو قیراط د یوه ګرام پنځمه برخه او یا یو قیراط مساوي دي په دوه سوه میلي ګرامو سره) .

د ګراف څخه لیدل کیږي په هره اندازه چي د قیمتي ډبري وزن (اندازه) زیاتیږي په همغه مقدار یي قیمت(ارزښت) لوړیږي، کله چي لوړ کیفیت لرونکي سور یاقوت او زمرد دري قیراطه او له هغه څخه زیات وزن ولري، ارزښت یي په بین المللي بازار کي له الماسو څخه لوړ دي د مثال په توګه، هغه قیمتي زمرد چي حکاکي شوي غمي یي پنځه قیراطه (یو ګرام) وزن ولري ، نو یو قیراط یي د شل زره نه تر پنځه ویشت زره ډالرو پوري ارزښت لري، چي په دي اساس د ټول غمي قیمت د سل زره نه د یو سلو پنځه ویشت زره ډالرو پوري رسیږي. او هغه لس قیراط (دوه ګرامه) د سره یاقوت غمي چي لوړ کیفیت ولري او حکاکي شوي وي، یو قیراط یي د پنځه دیرش زره نه تر څلویښت زره ډالرو پوري ارزښت لري، چي په دي حساب د ټول غمي قیمت دري نیم او یا څلور لکه ډالرو ته رسیږي . باید ووایو چي دا قیمتونه دروېشت کاله پخوا ټاکل شوي دي ، چي اوس په یقیني توګه نومورۍ قیمتونه څو برابره لوړ شوي دي ځکه له یو ې خوا په غربي او شرقي نړي کي قیمتي او زینتي ډبري مود شوي او له بلي خوابي د استعمال ساحه په اوسني پر مختللي تخنیك کي ډېره پراخه شوي ده او د معاصر کیهاني تخنیك په ډېرو حساسو برخو کي تري کار اخیستل کیږي.

که چېري پورتني قیمتونه په نظر کي ونیسو نو د خپلو قیمتي او زینتي ډبرو په ارزښت سه پوهیدلاي شو او د هغوي ارزښتناك رول د خپل تباه شوي ملي اقتصاد په بیا رغونه کي درك کولاي شو. په دي اساس دا لاندي طرحي د پیشنهاد په توګه وړاندي کیږي :

۱ - باید د هیواد د ټولو قیمتي او زینتي ډبرو د کانونو څخه د محلي قوماندانانو، متنفذینو او بهرنیو دلالانو لاسونه په هره ممکنه وسیله چي وي لنډ شي او دا کانونه چي د ټول ملت مال دي د دولت تر کنټرول لاندي راشي .

۲ - څرنګه چي په اوسني وخت کي دقیمتي او زینتي ډبرو راویستل ابتدائي اسانه او په کم مصرف تر سره کیږي، او ګټه یي د مصرف په لحاظ څو واره زیاته ده ، باید د نومورو ډبرو کیندلو او راویستلو ته لومړي درجه حق ورکړل شي

۳ - کله چي متحد مرکزي دولت پوره واکمن شي او حتي اوس هم په هغو سیمو کي چي د دولت حاکمیت تأمین دي، د اقتصادي امکاناتو په نظر کي نیولو سره، د نومورو ډبرو د کانونو د پیدا کیدو په خاطر اقدام وشي او په دي ارتباط د متخصصینو یو ګروپ د کانو او صنایعو د وزارت په چوکاټ کي جوړ شي تر څو د وطن په هغو ځایونو کي چي ددي ډبرو د شته والي امکانات موجود وي د هغوي کانونه تثبیت او په راویستلو یي پیل وشي .

٤ - د قیمتي او زینتي ډبرو د کانونو په راویستنه کي د امکان تر حده پوري د اوسنیو پر مختللو خلورم مخ

## لوی اختر

ایلند لیریز

مؤمن اولس به قرباني ګاني کوي انجوني به په نکریزو لاسونه سره کوي، او د اختر سندري وایي ماشومان او تنکي ځوانان میلي، او خوشالي ګاني کوي. په ټالونو ځانګي، او ... په قسم قسم خوږو میوو بازار خورا ښه تود دي ، د مینې لیونیان د خپلو معشوقو زلفوولونه شمیري، ځوك د سرو ګلو غنچي جوړوي چي د یار دربار ته یي یوسي، او چا د حرم د طواف په خاطر سپینه جامه په تن کړېده له ځانه ګناهونه څنډي، لوي خاوند سره ژمنه کوي چي د نور به ګناهونه ، نه کوم ، په چا به تیري نه کوم د چا مالونه به نه خورم او ... واي د شنه اسمان خالقه، اي د وچو دښتو خاونده ، اي د باران لمر سپوږمي د رڼا او تیاري ما لکه ستا رضا لپاره به په نړي کي په تن ورځ په میلونونو مالونه او څاروي نذرانه کیږي په هغو ماشومانو ورحمیږه چي پلرونو یي ستا د رضا لپاره خانونه نذرانه کړي ځوك په مردکیو ، ځوك په توپونو ، او ځوك یي په بمباري شهیدان شوي او د چالا تر لاسه مرګ او ژوند معلوم ندي د پلیګرن او ځرخي پله خوراك شوي چي نور سري او اولادونه یي ورته په تمه دي .

اختر راغلي او دغه یتیمان حق او هوس لري چي نوي جامي واغوندي د اختره میوه واخلي، میلو ته ولاړ شي خو پر عکس دوي(یتیمان) د بوي خوا د یو خلورم مخ

# د ادب مرغلري

## د ماضي څرک

قاضي محمد حسن
«حقیار»

قلمـــه ویښ شــــه وزر وغـــزوه
د استـــضـعـاف د انتـــهـــا په تکل
د مـــلالئ د عظمـــتـــو په ځلي
د پاك حـــرم د توتکیـــو ښکاریان

د ظالمــــانو مــــاني ونړوه
د حـــمـــاســـو ابتـــدا وتخنوه
د ازادئ جــنــډه بــيـــا ورپــوه
پړ گل بيـــا هم تاریخ ته وشـــرمــوه

* * *

مـايوس احـسـاس بیـا بوگنیـدل غـواړي
تیـــاري ســـيــاته رڼا هیله لرل
د انتـــقـــام او رژ بغـــرانده چي شي
د ملي برم تحـــفـــظ لپـــاره

اوږد سکوت نور ختـــمـــیـــدل غـواړي
فـــانوس کي وینه ســـوزیدل غـــواړي
په زخـــمــو مـــالگه دوریدل غـــواړي
زړه او روحـــونه بو کـــیــدل غـــواړي

* * *

قلمـــه ژرشـــه جــهـــانونه جـــوړ کـــړه
چي د يو څـاځکي په امـيـد نیم ژواند دي
په سـپـرغـئ ونه شـوه لمبـه لمبـه شـه
لــوړي ژوروتــه را خـــلـکــو بــانـدي

کـــه په طوفـان شي طوفـــانونه جــوړ کـــړه
ته بې رگـــوکي ایشـــاروته جـــوړ کــړه
د يو په ســوخت د بل فکرونه جـــوړ کــړه
لوړ تر اسـمــان عــمــارتونه جـــوړ کـــره

* * *

له ډیرو هیـــر دي الهي تصـــور
د خـــپـــل بابا په اتين اور لگوي
خـــوب د ابدال درنه تعـبـيـــر غـــواړي
تصـــویر د اوروي خـــوبکاره يي کـــړي گل

طاغـــوت رواج کـــر نمـــرودي تصـــور
مل شـــر قـــابیل د ابلیـــسي تصـــور
مــسلمــه څــه شـــو غـــزنوي تصـــور
چي وي اینــه کي خلیـلي تصـــــور

* * *

د اســـتـــبـــداد خـــونه تالا وگنهه
د اســـارت کـــوړئ چي مـــات شــولي
د کــرملین بطن کي ســتـــر انفـلاق
دا چي ښکیـلاك بیـا ترهیـدلي ښکاري

د الهــــام د پیـل بي نن لـــتـــا وگنـه
دا ازانگــي ســـتــــــا د ندا وگنهه
دا هم اعـــجـــاز د حـــبـل الله وگنهه
خـيـــال د اقـبـــال فطرت کي ســـتــا وگنهه

* * *

خو بیــا هم ســتـا په کـور تورتم ښکاریده
ارمـــان او هیلي په کي ســـوزي زمـــونږ
د وروو په ســـتـــوني باندي توره راښکل
ســـتـــا جــهــالت ولړزوله کـــعـبـــه

دلتـــه د غــم د یــاســـه غـم ښکاریده
بل د نفـــاق اور چم په چم ښکاریده
دا انتـــهـــا نود ســـتـم ښکاریده
د اقـصي ســتـرگــو کي هم تم ښکاریده

* * *

په خـــیـــال کي نوي تمـنـا راولـه
د تیــارو غـیــن ته شه شفق کي ســپـیده
د مــاضـي څــرك ته عـبـرتونه واخله
«حقیاره» تول دښمنان يو شول درته

د مظلـوم شـــونهـو کي خندا راولـه
دي تـر وړمـــــــو تـه رڼا راولـه
ځان کي احـســاس کي د مسـیـحـا راولـه
پـه لـیــــوني هـوس و بـا راولـه

جلال اباد

## له سترپو قدمونه ځار شم

حنيفه زاهد «شاه جوئی»

چه راته اوښکي پاکوي هغو لاسونه ځارشم
چه وران وطن ودانوي هغه زلمونه ځارشم
چه خپل ټاټوبي ته خدمت ئي په ځان فرض گڼلي
د ایماندارو له متینو ارادونه ځار شم
چه په کلونو د مظلوم اولس امید درته
ددين غمخوره ستا له سترو خدمتونه ځار شم
: اسيا زړه کي چه مثال د شريعت بلوي
غښتلي ځوانه ستا له لوړو کارنامو نه ځار شم
چه په لړزه شو شرق و غرب کښي د الحادنوکران
طالبه ستا له اغیزمنو تکبیرونه ځار شم
چه هیڅ غښتلي ئي و مخ ته نینگیدلي نشي
د سرښندني شجاعت له طوفانونه ځار شم
خپلو بچو ته يي درس د قرباني ورکوي
د وطن موري ستا له دي پاکي ځانگونه ځار شم
د حق د لاري شهیدان یکي ژوندي پراته دي
وطنه ستاله ويارو د کوهدیرونه ځار شم
«زاهده» بيا راته خزان وطن بن جوړوي
: پټ ساتونکو د همت له بهارونه ځار شم

## غزل

سيد پاچا باور

ډیري شوي گراني د دنيا خبري
له ما شوي پاتي د اشنا خبري
يو غم خونه دي چي چاره ئي وکړم
شولي په کډه د خندا خبري
زه د دنيا غمو په سر اخستي
راته شوي هيري د عقبي خبري
کشران مشرانو پوري خاندي خلکو
ځکه رسوا شوي بي حيا خبري
د ليونيانو ډلي ډلي گرځي
تأثير پري نه کا د ليلا خبري
په مينه مينه چي کاته نه کوي
ډيري ترخي شوي باره ستا خبري
دا به مور څه کاني راوشوي خدايه
دم په دم رسي د جفا خبري
دا د غماز د هلو ځلو ښکار دي
لر او برکيږي د ژړا خبري
څه چي په خوله وايي عمل پري وکړه
ناصحه مه کوه ډيرا خبري
که په محشر له ما پوښتنه وشي
زه به کومه ورته ستا خبري
په خوله يوه په زړه کي بل څه لري
د زړه له تله شوي جدا خبري
چي اشاري له لري لري کيږي
راته ښکاريږي بي وفا خبري
کوم رښتيا رښتيا خبري واوره
راته بلا شوي دا رښتيا خبري
دا زمانه شوه ټکه برگه غوندي
شوي بي «باوره» د هر چا خبري

## پسرلیه !

عبدالرحیم ثاقب

ښکلي پسرلیه ! ته د خوښي او خوشحالي قاصد ئي. له خپه زړونو ته د سوکالي او نیکمرغي زيري ئي ته د طبیعت نړي ته له خپلو راتلو سره ښکلا او ښایست راوړي د هسکو غرو په لمنو کي، په پراخو دښتو او میروکي، د سمسورو چمنونو په زړوکي ستا راتگ په خورا خوښي سره استقبالیږي نوي رنگارنگ مرغان او د زاڼو پیبلي قطارونه په خپلو زړکښو چیغو کي ستا راتگ ته ښه راغلاست وايي . گلان ستا د راتلو په غرض زړه وړونکي منظري جوړوي هسکي هسکي ونې هم ستا د هر کلي پخاطر خپل ځانونه په تنکيو شنو پاڼو سنگاروي، د بلبلانو زړکښ چیغارونه، درنو اوبو آبشارونه د گلانو روح خوشحالونکي منظرونه د بي روحه طبیعت زړه تختوي . تازه پسرلیه ! ستا په ښکلیو شیبوکي مين گل او بلبل په ارام سره يو بل ته د زړه خواله کوي، پردیسه بورا په ډیره مینه په ناز ناز سره د گلاب تکي سري شونډي ښکلوي او نرگس په خپلو خمارو سترگو سره د هغه تماشه کوي .

